مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲/۱۰/۱۴

# سیاسي ـ استخباراتي اسلام او د نفوس مسأله

د حساب ماشینونه يې رااخيستي، چې عربان دومره سوه ميليونه دي او اسرائيليان ايله لس ميليونه هم نه کيږي، نو بيا ولې پر فلسطينيانو ظلم کيږي؟

دا مهمه پوښتنه ده.

اصلي کيسه دا ده، چې عربان د عربي ملتپالنې په روحيه نه سره يو کيږي او نه جنګيږي. ديني روحيه په اسلامي ملت کې ځکه د يووالي او اتحاد د ټينګولو ځواک نه‌لري، چې اسلام په شدت سياسي، بلکې استخباراتي‌کړای شوی دی. سياسي - استخباراتي‌کړای شوی اسلام د شخصيتونو، مذهبي - سياسي ډلګيو د ګټو او واک و ځواکغوښتنې په محور راڅرخي.

اسلام ځو متشددو ترهګرو ډلو يرغمل کړی دی. د سياسي‌کړای شوي اسلام ټوله هڅه دا ده، چې د خپلو سياسي - مديريتي ډلو لپاره واک، پانګه او بشري ملاتړ وګټي، نورې کيسې ترې پاتې دي. سياسي‌کړای شوي اسلام مسلمه امت په توربيرغو، سپين‌بيرغو، اخوانيانو، سلفيانو، مذهبيانو، شيعه ګانو، سنيانو، صوفيانو، معتدلو، افراطيانو، د نړيوال تعامل پلويانو او مخالفانو سره ويشلی.

بېشکه چې په دې ويشونو کې به د انګريز، روس او نورو ښکېلاکي قدرتونو لاس هم وي، ځکه دوی ټول غواړي په اسلامي ايډيولوژيکو ډلګيو کې ځان ته نيابتي ډلې ولري او د خپلو موخو لپاره يې سره وجنګوي. دا اشتها اوس چين ته هم ورپيدا شوې ده.

په افغانستان کې چې د ماشومانو، ښځو او بېګناه انسانانو وينې بهېدې، که سعودي مفتيانو نارې سورې وکړې، که د مصر الازهر فتواوې صادرې کړې، که نړيوال اسلامي سازمان او نورو اسلامي بنسټونو رسمي اسناد خپاره کړل، چې دا جګړه فساد او وحشت ده، چا يې خبره ونه منله. ويل کېدل، چې د مصر الازهر سيکولرپلوی دی او سعوديان ښه مسلمانان نه دي، اسلامي سازمان د امريکا انډيوال دی، په دې منځ کې يوازې ديوبندي نظريه مهمه ده او بس.

د ديوبند تش په نامه خلف‌الصدق په اکوړه خټک کې استخباراتي ځاله وه، چې له ټولې دونيا څخه يې وسلې و پيسې رانغړلې او د افغانستان ماشومان يې پرې وژل، ښځې يې وژلې، ښوونځې يې سېزل، افغانستان يې ړنګاوه او لاس په لستوڼي يې ټول جهاد په افغانستان کې کاوه.

اوس چې فلسطين په وينو کې ډوب دی او وحشت د اسمان منارې راړنګوي، نه مُلافضل‌رحمان شته نه شيخ سميع الحق، نه يې حامدالحق، نه ملاعبدالعزيز او نه مفتي عبدالقوي... د دوی په اړه يوازې مستهجنې ويډيوګانې ښکته پورته کيږي.

نه يې د فلسطينيانو په دفاع کې ځانمرګي واستول، نه يې هم جنګيالي وروزل، نه يې حتی کوم کوشنی اعتراض چا واورېده.
يو زموږ ملت دی، چې په دې هيڅکله پوه نه شو، چې په افغانستان کې د افغان ماشومانو او ښځو په وړاندې هيڅکله جهاد فرض نه و، دلته هيڅکله اسلام په خطر کې نه و.
زموږ خلک هيڅکله پوه نه شول، چې پاکيستان اسلام استخباراتي کړی او استخباراتي اسلام د نړۍ د مسلمانانو ربړو، ستونزو، دربدريو، کړاوونو، ويش، بې‌اتفاقۍ او ښکېلتيا ته حللاره موندلای نه شي.
الله ج دې زموږ ملت ويښ او روښانه کړي!

**ويښتيا، روښانتيا او بدلون**

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ